بسم الله الرحمن الرحيم

## په ټاکنو کې د وحشي يهودي ادارې د «لاپيد» د ګوند په ګټه د عامه افکارو جلبولو لپاره د پاکو او مخلصو فلسطينيانو وژل

### خبر:

د فلسطين رسمي خبري اژانس، WAFA راپور ورکړ چې لسګونو زرو فلسطينيانو سه شنبه د هغو پينځو فلسطينيانو په جنازه کې ګډون وکړ چې سهار وختي د اسرايلي سرتېرو لخوا د نابلس ښار د لوېديځې غاړې په شمال کې وژل شوي وو.

په وژل شويو کسانو کې، ۳۱ کلن وديع الحوح؛ ۳۵ کلن حمد شرف؛ ۲۶ کلن علي انطار؛ ۳۰ کلن حمد قييم او ۲۷ کلن ميشال بغدادي دي. پر دې سربېره ۲۱ تنه نور ټپيان دي چې د ځينو روغتيايي حالت نازک دی.

په همدې حال کې؛ د دې پېښې په غبرګون کې په لاريونونو کې اسرايلي پوځيانو د رام‌الله په شمال، نبي صالح کلي کې ۱۹ کلن قصی تميمي هم وژلی چې په خپل کلي کې خاورته وسپارل شو.

د لويديځې غاړې په بېلابيلو سيمو کې د فلسطينيانو او اسرايلي پوځيانو ترمنځ نښتې وشوې؛ اسرايلي پوځيانو پر فلسطينی لاريون کوونکو اوښکې بهوونکی ګاز او ربړي مرمۍ وکارولې چې له امله يې يو شمېر فلسطينيان ټپيان هم شول.

په اشغال شويو سيمو کې هم خلکو د وژلو شويو کسانو په وير او د اسرايلي پوځيانو د بريدونو په غبرګون کې عمومي لاريون وکړ. ( فلسطين کرانيکل؛ ۲۰۲۲م کال د اکتوبر ۲۵مه).

د اسراييلو سر پرست لومړي وزير، يائېر لاپيد په يوه خبري کنفرانس کې تاييد کړه چې د دوی ځواکونو د شپې ناوخته د Lion Den Group (عرين الأسود) ډلې يو مشر، وديع الحوح وژلی، نوموړي زياته کړه چې دا عمليات «يو دقيق او خونړی بريد و چې پر هغو ترهګرو ترسره شو چې غوښتل يې بريدونه وکړي.» (اسوشيټېډ پرس خبري اژانس)

### تبصره:

نابلس له تېرو ۱۶ ورځو راهيسې د يهودي ځواکونو تر محاصرې لاندې دی او په يوه ازاد زندان بدل شوی. د ننوتو ټولې دروازې يې تړلې او په شاوخوا سيمو کې يې پلټنځايونه (چک پاينټونه) جوړ کړي. په نابلس کې نجاح ملي پوهنتون د لارې د تړل کېدو له امله خپل ټولګي انلاين مخته بيايي او همدارنګه په ښار کې د يادو شهيدانو په وير دوکانونه تړل شوي. موږ هره ورځ د استعمارګرو له لوري د خپلو خلکو د شهادت خبرونه اورو؛ دغه راز تر دې دمه ۲۱ تنه ټپيان دي او ۴۰ نور يې له عرين الأسود ډلې سره د اړيکو لرلو په تور نيولي دي.

د Haartez اسرايلي ورځپاڼې له لوري په خپرو شوو خبرونو کې ویل شوي چې اسرایلي ځواکونو په نابلس کې د عرين الأسود ډلې د «بم جوړولو فابريکه» ويجاړه کړې او دا يې يوه لويه بريا بللې. په داسې حال کې چې دا يو کوچنی زوړ کور و او ابتدايي چاودېدونکي توکي پکې جوړېدل چې په نابلس کې د اسرايلي ځواکونو پر وړاندې د غچ اخيستنې په موخه وکارول شي. له بلې خوا پوځ د يادو کسانو د وژلو او کور د له منځه وړلو لپاره له پرمختللې ټيکنالوژۍ او عصري وسلو څخه کار اخيستی.

نابلس د الف (د فلسطين تر کنټرول لاندې) سيمې په توګه ډلبندي شوې؛ دا په دې معنی ده چې يهودان او په زور مېشت شوي خلک دې سيمې ته نه شي تلای، خو بيا هم لوی شمېر يهودي پوځيانو په زور پر نابلس بريد وکړ او محاصره يې کړ.

له سياسي اړه خه؛ د اسراييلو ټاکنې د نومبر په لومړۍ نېټه ترسره کېدونکې دي؛ د دغه هېواد لومړی وزير، لاپيد د رايو خپلولو هڅه کوي او د دې لپاره ډاروونکي تکتيکونه کاروي؛ لکه «د ترهګرۍ پر وړاندې جګړې» شعارونه. خو په حقيقت کې د مخلصو او پاکو فلسطيني ځوانانو ژوند اخلي او ټپي کوي يې. د لومړي وزير موخه د ډېرو رايو ګټل دي او په دې کارونو يې غواړي ځان د «اسرايلو» لپاره وړ رهبر وښيي؛ له همدې امله يې په ټول فلسطين کې عمليات پيل کړي او د جېنين او شفاعت پر کمپ يې بريدونه وکړل.

ډېره سپکه خبره دا ده چې د يهودي اداري لومړي وزير په ډېر جرات د فلسطيني ادارې له مشر، محمود عباس څخه وغوښتل، چې که سولهييز ژوند غواړي، فلسطينيان دې کابو او ارام کړي.

دا د فلسطيني ادارې د چارواکو ذلالت ښيي چې د فلسطين د خلکو پر وړاند د دښمن همکاري او دسيسې مني. د نابلس زاړه ښار ته د ننوتو لار خورا حساسه ده او له فلسطيني امنيتي سرتېرو او يهودي اشغالګرو سره له تخنيکي همغږۍ پرته څوک په اسانۍ نه شي ورتلای. ولس د دوی له دا ډول همغږيو خبر دی او له دې خيانت کوونکو څخه د امنيت او ملاتړ هېڅ تمه نه لري. هغه کسان چې ناراضه دي او تېری پرې شوی؛ د عرين الأسود په نامه نوې ډلې ملاتړ کوي؛ دوی له بېلابېلو فلسطيني ډلو څخه د هر ډول سياسي، مالي او د وسلو مرسته رد کړې او دې کار يهودان اندېښمن کړي. يهودانو وليدل چې له ځوانانو جوړه شوې دغه ډله په کوچنيو بريدونو کې پر دوی برياله وه؛ په ورته وخت کې په ډېرو ښارونو کې خلکو د شهيدانو وير وکړ، په زرګونو کسان سړکونو ته راووتل او دا د يهودي دولت لپاره يوه وحشتناکه منظره وه.

که يوه رېښتينې اسلامي رهبري وای چې په ټول قوت سره د يهودو او د هغوی د ملاتړو پروړاندې ودرېږي؛ نو ځوانانو او سپينږيرو به يو ځای د اسلامي پوځ د يوې برخې په توګه اشغالګر، د دوی ملاتړي او له دوی سره د عادي اړيکو جوړوونکي له منځه وړي وای. موږ وليدل چې يوې نوې جوړې شوې کوچنۍ ډلې يهودي رژيم څومره وېرولی او ذليل کړی، نو تصور وکړئ که يو اسلامي پوځ تر مخلصې رهبرۍ لاند تنظيم شي، د اقصی سپېڅلې خاوره او ورپسې نورې اسلامي ځمکې به څنګه يوه په بله پسې له ظلم څخه خلاصې او څنګه به لوی وياړ او بريا د اسلامي امت په برخه شي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**منال بدېر**

**ژباړه: محمد هارون رؤفي**